طارق "ارسلائی"

۲۰۱۵/۱۲/۱۹

# ښاغلي محترم ډاکتر نبي مصداق ته

څو ورځې د مخه ښاغلي ډاکتر نبي مصداق په افغانستان کې د "الکترونيکي تذکرې" د لانجې په هکله په افغان-جرمن آنلاين ويبپاڼه کې يو مضمون خپور او د دغې پروژې په روانو لانجو بحث کړی و. ډاکتر مصداق همدا راز ټولو افغانانو ته بلنه ورکړی وه چې د دغې موضوع په اړوند خپلې مشورې دوی سره شريکې کړي.
زمونږ اکثر افغانان د ښاغلي ډاکتر نبي مصداق له نوم سره به آشنا وي، ځکه چې نوموړی ډير کلونه د بی بی سي د راديو د پښتو د څانګې آمر او د افغانستان د روانو حالاتو په هکله د تجربې خاوند يو شخصيت دی. ډاکتر نبي مصداق اوس فی الحال د ډاکتر اشرف غني د مشاورينو په ډله کې شامل دی. نو د دوی د غوښتنې سره سم غواړم د افغانستان د "الکترونيکي تذکرې" په هکله څو ټکي ته اشاره وکړم هيله ده چې ددوی د منلو وړ وګرځي:

1 - په لومړی سر کې د "الکترونيکي تذکرې" هدف او وظيفه بايد مشخصه شي. څرنګه چې ښاغلي ډاکتر مصداق وايی "تذکره" يا National Identity Card د يو هيواد د وګړو د هويت د تثبيت کولو لپاره يوه ضروري وثيقه ده. خو که د ملي وحدت حکومت او پخپله ډاکتر اشرف غني سره د "الکترونيکي تذکرې" مفکوره په انتخاباتو کې د درغلنې څخه پس قوت موندلی وي، نو دلته کې دوی په خطا دي ځکه تذکره به په يواځې توګه هيڅکله هم و نشي کولای چې په انتخاباتو کې د درغلنې مخنيوی وکړي. دا تثبيت شوی خبره ده "چيرته چې متقلب وي هلته به تقلب وي." مونږ په امريکا کې وليدل چې د "جورج بوش" او "ال ګور" تر منځ د ۲۰۰۰ کال په انتخاباتو کې سره له ټول هغه تکنالوژي او تجربې چې له امريکايانو سره موجودې دي، خو بيا هم په فلوريدا کې چې د "بوش" ورور هلته ګورنر و، په لوی لاس تقلب تر سره وشو او په نتيجه کې "جورج بوش" په انتخاباتو کې کامياب شو. زه دا نه وايم چې "الکترونيکي تذکرې" به په انتخاباتو کې د درغلنې په مخنيوي کې مرسته ونکړي، خو که هدف د درغلنې مخنيوی وي نو بايد چې تر ټولو څخه د مخه د انتخابات ميکانيزم او د انتخاباتي ادارې کميسيونونه اصلاح شي تر څو په انتخاباتو باندی د خلکو اعتماد جلب شي.

2 - د ډاکتر مصداق له خبرې څخه دا په ډاګه کيږي چې په آينده کې به د "الکترونيکي تذکرې نه د کرډت کارډ په ډول هم استفاده وشي." نو په دې ټوګه دا به د "الکترونيکي تذکرې" دريمه وظيفه وي. خو بايد په دی پوه شو چې د تذکرې څخه د "کريديت کارد" کارول دومره هم آسانه خبره نه ده او دير پرمخ تتلي هيوادونه هم لا تر اوسه دغه کار ته زړه خوښ کړی نه ده، نو افغانستان چې په دغه کار کې تجربه هم نلري او وسايل او امکانات هم ورسره نشته، ولی خپل کار دومره کړکيچن کوي؟ نو څرنګه چې مخکې وويل شو، که هدف "تثبيت هويت" وي، نو داسې يوه تذکره دې جوړه شي چې مصرف يې کم او دير ژر په ټول ملت باندی توزيع شي. نو ښه به دا وي چې د تذکرې په لکۍ کې نور اضافي شيان و نه ترل شي او داسې نه چې چا ته به يوه تذکره ورکول کيږي خو بيا په مقابل کې د لسو شيانو توقع ورڅخه وشي.

3 - زه نه پوهيږم چې د افغانستان دولت ولی په هر کار کې مادي ګټې ته سترګې نيولی دي او څرنګه چې ښاغلی مصداق وايي که د تذکرې څخه د "کريديت کارد" استفاده وشي نو" د تذکرې راتلونکي ټول مصارف به له همدې لارې تامينيږي." که د افغانستان دولتي چارواکو سره په رښتيا هم همدغه ذهنيت موجود وي نو بله ورځ د افغانستان دولت په خلکو باندې به د "رفع حاجت" ماليه هم وضع کړي. که د افغانستان دولت غواړي چې خپل اقتصادي وضعيت ښه کړي نو ښه لاره به يې دا وي چې د غلو او لوتمارانو مخه ونيسي نه دا چې "دولتي خدمات" او "عام المنفعه" کارونو ته سترګې نيولی وي. نو هيله ده چې له تذکرې څخه هم د پاسپورت په شان د "نوټ چاپولو"ماشين جوړ نه شي.

4 - په تذکره کې د "اعتبار نيټه" يا Expiration Date ذکر کولو ته زما په نظر ظرورت نشته. يوازې هغه ملکونه په خپلو تذکرو باندې د "اعتبار نيټه" ليکي چې د تذکرې څخه بله استفاده هم وشي (لکه پاسپورت او کريدت کارد). خو که چيرته تذکره يوازې د هويت د تثبيت لپاره وي نو بيا په تذکرو باندې د اعتبار د نيټې ليکل ته



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په خير و لولئ

ظرورت نشته، ځکه چې هویت هيڅکله له اعتباره ساقط کيږي نه. دا باید هیر نه شي چې د هويت تثبيت د يوې خاوري د وګړو د "حق" دی نه کوم خاص"امتياز" نو منطقي خبره نه ده چې دغه "حق" د پاره د "اعتبار نيټه" تعينه شي.

5 - راغلو د "الکترونيکي تذکرې" پر تخنيکي مسائلو باندی. زه خپله "نِټورک انجنير" Network Engineer او د دغي پروژې په کمپيوتري مشکلاتو باندی پوره واقف يم خو دومره پوهيږم چې نن سبا په افغانستان کې ماشاالله دير تکړه ځوانان موجود دي چې په کمپيوتر کې پوره مهارت لري او په دې برخه کې د دغي پروژې مسؤلينو ته پوره او بشپړ مشورې او لارښوني به ورکوي. خو بې له دې چې تفصيل ته لاړ شم، غواړم په لنډ ډول څو ټکي ته اشاره وکړم:

**الف:** دا اوس افغانستان د "الکترونيکي تذکرې" لپاره Networking Infrastructure يا "کمپيوتري زير بنا" نلري او که چيرته همدا نن په افغانستان کې جنګ ودريږي او په دغه ساحه کې کار شروع شي نو بيا هم اقلاً ۴ يا ۵ کال وخت به ونيسي تر څو د "الکترونيکي تذکرې" د پروژې د پاره يو د اعتماد وړ او موثر زيربنا رامنځ ته شي.

**ب:** کوم معلومات چې د تذکرې د پاره له خلکو څخه لاس ته راوړل کيږي د خلکو "شخصي ملکيت" دی چې په دير احتياط او احترام سره باید ورسره چلند وشي. دولت بايد په جدي توګه هڅه وکړي چې **د** خلکو شخصي معلومات د نورو لاس ته ونه لويږي او دې د پاره دولت بايد لازم اقدامات ولري. يوه طريقه به يې دا وي چې په "ديتا بيس" Database کې ټول اسناد ونه بايد "شِفرې" Encrypted وي او همدا شان ډير محدود کسان دغه "ديتا بيس" ته لاس رسی ولري.

**ج:** څرنګه چې مخکي ورته اشاره وشوه، افغانستان فی الحال دغه کار د پاره لازم Networking Infrastructure نلري او بايد هڅه وشي چې دغه پروژه ديره کړکيچنه نشي. 3G يوازې يو موبيال تکنالوژي ده او دومره طاقت او سرعت نلري چې ۵۰ يا ۱۰۰ سيمه ييز دفترونه په عين وخت له مرکز سره وصل کړي او بيا ټول مامورين وتوانيږي په عين زمان کې په هماغه يو "ديتا بيس" باندې کار وکړي (نوی 4G او بيا 4G LTE تکنالوژي د 3G په پرتله ۱۰-۵۰ برابره سرعت لري .) نو ښه به دا وي چې سيمه ييز دفترونه پخپلو کمپيوترونو کې معلوماتونه يا Data را ټول او بيا مياشت کې يو وار دغه معلومات مرکز ته وليږي چې بيا په مرکز کې "ماستر ديتا بيس" Master Database سره يو ځای يا Merge شي. البته د دغو اسنادونو انتقالول هم ځان ته خاصه طريقه لري.

**د:** په مرکز (کابل) کې درې دفترونه چې يو بل څخه لږ تر لږه ۱۰ کيلومتره فاصله او هر دفتر ځان ته د برق جلا منبع ولري، د "نوري فايبر" Fiber Optics له لارې وصل او "ماستر ديتا بيس" Master Database د مرکزي دفتر په کمپيوتر Server کې حفظ شي. ديره مهمه ده چې يواځې د دوه درې کسانو څخه پرته بل هيڅوک په "ماستر ديتا بيس" کې د "پاک کول حق" Delete Permission و نه لري. "ماستر ديتا بيس" د دغو درې واړه دفترونو تر منځ په اتوماتيک ډول بايد Replicate يا "مثنی" جوړه کړي. او "ماستر ديتا بيس" بايد په څو طريقو Encrypt يا شفرونو سره سمبال شي.

**ه:** په دی ترتيب هر يو سيمه ييز دفتر به دوه بيلابيل " ديتا بيس" ولري: يو "محلي" Local چې د سيمي د خلکو څخه معلومات راټوليږي او مياشت کې يو وار به مرکز ته ليږل کيږي؛ او بل هم د "ماستر ديتا بيس" کاپي يا نقل چې مياشت کې يو وار د مرکز څخه ورته رسيږي.

**ز:** دا به يوه موقتي حل لاره وي تر څو په راتلونکو ۱۰ کلونو کې افغانستان وتوانيږی چې خپل "کمپيوتري زير بنا" جوړ کړي؛ او ښه توب يې دا دی چې اوسني سيستم به په آينده کې په آسانی سره نوی سيستم ته اړول کيږي او د "تطابق مشکل" يا Compatibility Issue به رامنځ ته کيږي نه. په دغه شکل به د دغي پروژې مصارف تر ۵۰٪ ټيټ شي.

6 - د هرې پروژې کاميابي او ناکامي تر ډيره حده پوری د پروژې په مديريت پورې تړلی وي. که هر څومره ښه تکنالوژي او امکانات زمونږ په لاس وي خو مديريت ضعيف وي، نو په پای کې امکانات ضايع او پروژه به هم ناکامه شي. د "الکترونيکي تذکرې" پروژه به هم يوازې هغه وخت په بريالي توګه پای ته ورسيږي چې مسلکي او باسواده کسان ورباندی کار وکړي. که داسي وي چې څوک په کې د "ز" او "ض" يا د "ح" او "ع" فرق نشي کولای او د "توزيع" په ځای " توضيع" (هغه هم يو وار نه چې څلور ځلې) او د "واضح" په ځای "واضع" ليکي،


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

نو په افغانستان کي "الکترونيکي تذکرې" به په ژوند کي هم " توضيع!" نه شي. داسي ښکاري چي د ښاغلی اشرف غني تر شا او خوا ځيني داسي کسان را ټول شوي دي چي اکادميک القاب (تايتلونه) لري خو دومره سواد ورسره نشته او پی اچ دي PHD به يې يا د نقل په زور لاس ته راوړی وي او يا به چيرته په بيه اخيستيي وي.

والسلام
ويرجينيا - امريکا


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ